# کبردی

سلیمان لایق

۱۳۶۰

# کیږدی

سلیمان لایق

خپروونکی

دافغانستان د علومو اکاډیمی
د ژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز

پښتو ټولنه
دوهم چاپ

۱۳۶۰

# دا د شعر کیږدی
# هغو قهرمانو کارګرانو ته
# اهدا کوم چې د سالنګ
# په سختو غرونو کې پ د خپل
# وطن د انسان د ټلولو
# لار سینځه او هواره کړه .

( سلیمان لایق )

2689

( لومړی )

( دوهم چاپ سریزه )

# داکـــپړی

داد سارا بې تاته وبې ډېرې چې سلګونه کاله په دې شګلنوا ولمر وهلو دښتو کې ښکته پورته ځې اوراځې زمالپاره نه تمامېدونکی او بې انجامه مضمون دی ؛

داد هغو سـرګردانو پرګنو د خونړیو بریو ، ترخو ماتو ، دردونکو مرګونو ، لویو تباهیو او د هغه رټل شوي انسان سره د بې ساریو ظلمونو مضمون دی چې نه ماتېږي ، نه ورکېږي او چې انساني غرور د چاپېښوته نه غورځوي ؛

د کېږدی ډډه د باد د ونو ژبه ، د تالنده ژبه ، د باران ژبه او کله کله د بیابان په ارت ګوګل کې د اوږدو چوپیاوو او ژورو ترزمیو ژبه ده ؛

د هغې سرګذشت دیو سرګردان اونۍ چلې ملت سرګذشت دی چې له پېړیو راهیسې لوږو ، رنځونو د ښمنیو او نه تمامېدونکو بې ثمره مبـــدونو ورشړل شوی دی ؛

زما ترانې ، سرودونه او داســتانونه د همدې سارایې غمځلې ډېرې زمن اولونه دي او زه لاتراوسه د چوپو او غمجنو دښتو د همدې توري ناقراري کېږدی شاګردیم ؛

## دومم

په دې باورچې داتوره بېړۍ به دبرې اونېکمرغۍ ساحل ته ورسېږي او په دې تکيه چې رارسېدونکې سبا وون به هغې ته سور رنګ ورکړي او دتورو تنابونو پرځای به په هغې باندې د لمر زرين مزې وغځوي ، خپلې سندرې په دې راوېښ بېدونکو غږونو بيا بانونو کې پيل کوم .

پرېږده چې دا د غمونو توره بېړۍ دراختونکې لمر په وړانګو کې سره شي .

سليمان (لايق)

( دريم )

(پیشگفتار چاپ اول)

# بجای مقدمه

این مجموعهٔ زیبا، گلدسته‌ای رنگین از اشعار سلیمان لایق، شاعر انقلابی و عصیانگر دوران ماست. افتخار دارم که سطری چند بجای مقدمه بر آن می‌نویسم.

شرایط چاپ این اثر لزوم‌ها و سطور محدود دیگر برای این مقدمه اختصاص یافته است، بمن اجازه نمی‌دهد در این جا به تشریح دقایق ادبی لطیف آن، از نظرگاه زیبایی‌شناسی هنری بپردازم و یا ارزشهای اجتماعی آن را به معیار وظایف یک شاعر متعهد و مسئول چون سلیمان لایق، مورد ارزیابی انتقادی قرار دهم. از سوی دیگر بهترین جوابگوی این دو سوال عمده و اساسی در بارهٔ اینکه: آیا استنباط شاعر از محیط طبیعی و اجتماعی اش چیست؟ و آیا مسایل مربوط به آن را چگونه مطرح و حل می‌کند؟ تنها و تنها خود شعر و اثر اوست و لاغیر!

معهذا، این حقیقت را نمی‌توان ناگفته گذاشت که سلیمان لایق این شاعر پیشاهنگ کشور ما، به دو زبان دری و پښتو شعر

(خلوت‌م)

می‌گوید و در هر دو زبان بطور کلی . اشعارش از لحاظ شکلی (تصویر ذهنی و صورت ظاهری) ملی و تاریخی است و از لحاظ محتوی دموکراتیک و انقلابی . ملی و تاریخی بدین معنی که : تصویرهای او از آوارگی صحرانوردان چادرنشین در دشتهای گرم و سوزان کشور تا رنجهای بیکران زحمتکشان اسیر و شلاق خورده کوهپایه های پربرف چونغر، از هیاهوی بزم آریان گرسی پرست شهرهای ویران تا بساط ننگین برج نشینان مفتخار قلعه های فیودالی در روستاهای ستمکش، از پیامبران خروشان ابا سین تا نبض آشنایان گردابهای آموزعقابان پامیر تا شیران خیبر و همه آنچه درین محدوده جغرافیایی در حال شدن و گذشتن بوده و هست و در چاچوب مناسبات اجتماعی - اقتصادی معین و فرهنگی ناشی از آن که دارای گذشته تاریخی خاص خود و ممیزات ملی مخصوص بخود بوده و در زیر تاثیر قانونمندی عام تکامل اجتماعی تا مقطع زندگی شاعر رسیده است ، با واقعگرایی انقلابی بصورت زنده و فعال ارائه و تمثیل می شود و آنچه مربوط بشکل ظاهری شعر لایق است ادامه سنت های ارزنده و دارای نیروی حیاتی استادان کلاسیک شعر پشتو است که با نوآوریهای سالم ، خلاق و تکامل دهنده مرحله نوین و جدیدی را در شکل شعر پشتو بنیانگذاری میکند و بدون اینکه به اصول انکشاف یابنده و قابل رشد زبان شعر در ادب پشتو پشت پا زند . با ایجاد گریهای

خلاق درین زمینه ، آنرا تکامل میدهد وظرفیت هنری وتخنیکی بزرگتر وبیشتری بآن می بخشد .

ولما ، محتوی دموکراتیک وانقلابی باین معنی که : سلیمان لایق ، سخنگوی پرشور وانعکاس دهندهٔ صدیق و راستین نیازها وآرمانهای توده های بزرگ اکثریت محروم جامعهٔ ستمکش افغانستان است واین نیازها وآرمانها را بمعیار جهان بینی علمی طبقهٔ کارگر - این ذره بین حساس ودقیق شناخت علمی هستی وماهیت، حال وآینده ورهنمای عمل رهایی بخش تمام زحمتکشان وطنش وجهانی که در آن زندگی میکنند - می سنجد . باساس ایمان خلل ناپذیر او باین جهان بینی علمی بود که توانست افتخار امتیاز نشراتی ومدیریت مسوول جریدهٔ مبارز و پرافتخار پرچم ( ارگان حزب دموکراتیک خلق افغانستان ) این پیشاهنگ طبقهٔ کارگر کشور وتمام زحمتکشان افغانستان ، این مبارز سرسخت وراستین راه تامین حقوق ملی ودموکراتیک وآرمانهای انقلابی اکثریت بلاکشیدهٔ خلق افغانستان این ترجمان صدیق ، بیانگر ومدافع بی ترس مبارزات جهانشمول طبقهٔ کارگر بین المللی ، جنبشهای رهایی بخش ملی وجبههٔ جهانی نیروهای پیشاهنگ ترقی وانقلاب در سراسر جهان را تشکیل میدهد.

سلیمان لایق ، بعنوان یک شاعر با درک این مطلب اساسی وعلمی که روبنای فاسد واز جمله

پدیده‌های تأخرپسند فرهنگی، در مقطع خاصی از فعالیتهای هنری چون شعر و شاعری - خاصه در جامعه‌ای که از لحاظ نهضت ملی و اجتماعی هنوز در مرحله قشری و احساسی قرار دارد میتواند بلای تحمیق توده‌ها و منحرف ساختن نیروهای جوان و مستعد بفعالیتهای انقلابی سلاح مؤثر و زهرآلودی باشد. بحق و بجا بمبارزه با شاعران مزدور و درباری و ضد متکلان فرهنگ فرسوده و فاسد طبقات حاکمه و ستمگر و نظام طاعن زدهٔ فیودالی برخاسته، آنها را بشدت مورد حمله قرار میدهد و به آنها بی باکانه می تازد. بیایید این حقیقت را در این مجموعه و بخصوص زیر عنوان (**له درباری شاعر سره**) باهم بخوانیم و بدانیم که:

او یعنی سلیمان لایق - این شاعر مردم، شاعر عصر و دوران رستاخیز توده‌ها، بلای رهایی مردم محروم کشور خود از بیهودگیها و بی فرهنگیها، شاعران بزمها - بزمهای درباری، بزمهای فحاشی، بزمهای رقصهای عریان دختران بی حجاب و عشوه‌های دلیرانه بغرض اطفای شهوات اهریمنانه، بزمهای خمها و جامها بزمهای گناهها و هوسها، بزمهای اقبال کاخها و ذلت ویلانه‌ها را بشدت محکوم می کند و باین می نازد و بجا می نازد که خودش، یعنی سلیمان لایق، شاعر توده‌های محروم، فریاد غلامان، رنج کارگران، زحمت و ستمکشی دهقانان، ادبار غزدی نشینان، از پا افتادن مظلومان، نالهٔ ناتوانان، اشک اسیران

ننگ بزرگان، مبارزهٔ کارگران و محبت و مودت خلقهای وطنش و سراسر جهان است.
او می داند که باین کار، بر تودهٔ باروت آتش میفکند! آری! او چنین کرده است. و چنین خواهد
کرد. او خود را پرچمدار سنگر زحمتکشان کشورش میداند و می گوید:
تا زنده است در این موقف پایدار خواهد ماند.

زهی تصمیم و ارادهٔ انقلابی! پیروز باد لایق و آرمانهایش

۲ دلو ۱۳۵۴

کابی

بارق شفیعی

(اتم)

# فهرست


| کنه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ — | یه خلکو خلکو! | ۱ |
| ۲ — | اوبزده لار | ٦ |
| ۳ — | پلی | ۱۰ |
| ٤ — | هیرشوی گل | ۱٦ |
| ۵ — | دنیوا په غاړه | ۲۱ |
| ٦ — | ژړی شپی | ۲۸ |
| ۷ — | د شکوکور | ۳۲ |
| ۸ — | وصیت لیک | ۳۵ |


نهم

| گڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۹ — | سرګردان | ۳۷ |
| ۱۰ — | کېږدی | ۳۹ |
| ۱۱ — | چونغرته ! (۱۲) ترانه | ٤۲ |
| ۱۲ — | چونغرته ! (۱۳) ترانه | ٤۷ |
| ۱۳ — | چونغرته ! (۱۸) ترانه | ۵۱ |
| ۱٤ — | چونغرته ! (۱۹) ترانه | ۵٤ |
| ۱۵ — | چونغرته ! (۲۱) ترانه | ۵۸ |
| ۱٦ — | چونغرته ! (۲۲) ترانه | ٦۲ |
| ۱۷ — | چونغرته ! (۲٦) ترانه | ٦٦ |
| ۱۸ — | چونغرته ! (۲۷) ترانه | ۷۰ |
| ۱۹ — | شاعرته ! (لومړی پیغام) | ۷۵ |
| ۲۰ — | شاعرته ! (دوهم پیغام) | ۸۲ |
| ۲۱ — | د ګنړسین | ۸۸ |
| ۲۲ — | له درباري شاعرسره | ۹۳ |
| ۲۳ — | ورکه لار | ۱۰٤ |
| ۲٤ — | ځوان شاعرته ! | ۱۰۸ |
| ۲۵ — | یه خلکو خلکو ! | ۱۱۸ |


لسم

# یه خلکو خلکو!

یه خـــلکو خلکو ، دوطن خلکو

یه وزیو تـر بیو ، دغرو وگرو

آزادي څـرده ، خپلواکي څـرده

یه درنه جارشم لوڅولـــغرو

کہ وطن لوڅ وي ، کہ وطن وران وي

سمسورې څہ دہ ، آباد ي څہ دہ

کہ لوټول وي ، کہ ډوبـول وي

خپلواکی څہ دہ ، آزادي څہ دہ

• ● •

بی روحہ خاورہ ، آزادہ نـہ دہ

بی پوهی خلک وارہ بندیان دي

داپښی لوڅی ، داپہ نـس وزي

وارہ مریان دي ، ټول غلامان دي

• ● •

کہ آزادي دہ ، کہ خپلواکي دہ

دڅوسرہ ودہ ، دټولـونـہ دہ

کہ واکداري دہ ، کہ کامراني دہ

دیوي مانی دہ ، دشپولونہ دہ

آزاد هغه وي چې په تن پټ وي

آزاد هغه وي چې په نس موړوي

آزاد هغه وي چې واک يې خپل وي

آزاد هغه وي چې په ځان جوړوي

• ● •

آزاد هغه وي چې کوربې خپل وي

په جهان ښوري لونړۍ وينې

آزاد هغه وي چې په هرګام کې

هم تلک وينې هم کړۍ وينې

• ● •

يه وزيو تزيو ، يه غلامانو

لږ رابيدارشئ درنه قربان شم

يه درواري شم راګرځندي شئ

نه چې بوډا شم نه چې ستومان شم

راځئ چې یوشو ، راځئ چې یوشو

په ګډه مات کړو د اځنځیرونه

راځئ چې پریکړو ، راځئ چې ورانکړو

مرغلین پرې ، تور زندانونه

• • •

له غرورغونو ، له دریابونو

له سپیرو دښتو ، له توروخونو

سره راټول شئ ، سره قوت شئ

په سیلاوونو ، په توپانونو

• • •

اوس دبادونو مستو څپو کې

ماته رارسی ستاسی غږونه

دلمر په وړانګو جهان تړلیږم

ستاسی له قهره ډک فریادونه

يەلويە ولسە تە پە ځان پويې

تەسترقوت يې ، تەلوى ملت يې

هم آزادي يې ، هم نيكمرغى يې

هم عدالت يې ، هم كرامت يې

• • •

دتاريخ كرښى ، د زمان پاڼى

پەتاډكښې ، پەتاغږيږي

داكږي لارى ، دالويې كندې

پەتاسيخيږي ، پەتاسمبږي

• • •

كەځوك قوي دى ، خوتاقوي كە

كەځوك كمزوردى ، دتاكمزوردى

لەتابل شوى ، لەتاجگ شوى

كەچيرې اوردى كەچيرې شوردى



دوبزي دويم
كابل ۱۳۴۲

# ★ اوبزده لار ★

په ټوله سیمه کې باران اوري

آسمان ناري وهي وريځ ژاړي

زموږ دمخه په يوه خړه باندې

يوه کډه لېږدي اوبزده لار نغاړي

څونړۍ ځولی په باران لنـــدې

په خړې پرتې او به ترې داړې وهی

شپیته کلن بوډاله ښځې سره

پسی روان دی سختی لاری وهی

• ● •

د ښځې غږ کی یوما شوم ویده دی

کلۍ ټالنده شی وریږدي

موږې راتینګ کړی چې دے وژاړي

سرې خپل زړه ته برابر کړدي

• ● •

د باران څاڅکی لکه غشی راځی

سوړ باد په ستر گولکه ستنی لگی

دلارتړې شگی په لوڅو پښـــو

د چرو څوکو په شان سونی لگی

دبوډاپوزې نه اوبه څاڅې

بادچې پیاوړې شې ځګیروی کوي

کلچې وړزې نوشکروایي

بیاچې راپورته شې ستې وهې

• • •

اې پردیسانود وطن زمنو

ستاسې مرستون اوسنا ګورچیرې؟

چیرې خاپورې چیرې لوبې کوئ

ستاسې روغتون اوستاسې کورچیرې؟

• • •

آیادرسې دزمان سندرې

چې درست بشرپوکلی کورې بولی

خوناڅپل پراخ هېواد کې ولې

نه څوک شریک اونه خپل ورورې بولی؟

باران خوگورئ چې قطره قطره دی
چې سره یوشی لوی دریاب جوړ کړي
بیاچې په یوه لاره کې سرکښ ږدي
کاڼي پرې باسی او سیلاب جوړ کړي

• ● •

په ټوله سیمه کې باران اوري
آسمان نارې وهي وریځ ژاړي
زمونږ دمخه په یوه خره باندی
یوه کډه لیږدي اوږده لاړه ناري

دغوایي ۱۳
۱۳٤۳
کابل

# پلی

داوچتوغرو په میـــنځ کی

په اسفالت ســـړک روان و

ملا درد منه ، پښی چاودې

لاړه لرې وه ســـتومان و

لړې پلنی وې په غږونو
راروان یاغی توپان و

• ● •

لاړوي تر وړې یادشول
په دې واټ کې خپل کاروان
د دې غږو په ماتوو کې
خپلی هڅی، زحمتونه
کلنگونه، زنبیلونه
ساړه څرمی، سخت کلونه

• ● •

کلکی پرښی مې کړې ماتی
سرکش غرونه مې هوار کړل
سین مې سیخ کړ خپل بستر کې
سیلاوونه مې مهار کړل

ستر پلونه می تیار کړل

تو پانونه می ایسار کړل

• ● •

په بریتود مسا پـر کی

یوه نری مسکا پیدا شوه

په ساده زړه کی پې ویښه

یوه خوب ورځې تماشوه

«کاشکی بیا په دغو غرو کی

دکارونو یـوه غوغا شوه»

• ● •

«کاشکی بیا دغو دروته

پخوانی ملګري راشی

کاشکی بیا په دغو لارو

لمړی او خپړې ړغاشی

کاشکی بیا زما غوږ وته

دماشین سندره راشی»

• • •

«کاشکی دغه ځیږه لاره

بیازموږه د کاروشی

په هرمور او هره څوکه

ماشینونه په ناروشی

داوطن اودغه سیمه

دجهان دنندارو شی»

• • •

ناڅاپی ورباندی راغی

یومو ټرله پاسو غږونه

شکی ختی یی ورباد کړې

دی یې ویوستله اوبونه

پنډيې ولويده له شانه
را بيدار شوله خوبونه

• ● •

اوسيلي يې را اوچت شو
له گوګله سره لمبه شو
په يوه تيږه باندې کينا ست
په خپل ځان باندې اختر شو
وې يې «بيا دغه شين ستر کې»(۱)
ما ته ولې په غصه شو

• ● •

اې دغرونو مسا پره !
دهر چا ده خپله برخه
تر خو دا آسمان ولاړ وي
وبه نه وزي له دې نرخه

(۱) شين ستر کې = آسمان

# ځاوچت ځلنډوه يې

## دغه توره اوږده کړخه

دغبرګولی ۶،

۱۳۴۲

سالنګ

# هېرشوی گل

دیوه خوړله څنګه ناست یم

سترې شوی ، سانیولی

پښې تر دوړو لاندې پټې

وږی تږی ، لمر وهلی

نظر ورمه اې خوادې خـــوا
په پوټيو په اغـــزوکـــی
کلـلوبن ي پـه کـربورو
کلـبنوري پـه وبنـــوکی

• ● •

دمپـر يانو خـالی خواکی
يوه اوبزده پـانه پرتـه ده
بادراوړې ،لمروهـــلی
ژړه شوې ده ، ورسـته ده

• ● •

خدازده خدازده دغه پانه
چـاراوړې له باغـــونو
کوم شـپانه پـه لبنـــته پورې
سـيلاوونو ، کـه بـادونو

اوه دا پاڼه پاڼه نه ده
دا یوگل دی ژړ یدلی
بې باغوانه راشین شوی
لکه ستوری خُلیدلی

• • •

پسرلی راغور ولی
یوه شیبه یې خندولی
تنهایي له پښولووولی
دجوزالمر ووژلی

• • •

تر اې سره د بید یا گله
څه بیځایه زړغون شوی
دسارا په چپاووک
تباه شوی ، زبون شوی

نه چا باغ کی کښنولی
نه چا زلفو کی ټومبلی
یوه خولې خندیدلی
بیا دستې پې ږغ ټیدلی

• • •

نه په مینه کی بدنام شوې
نه قاصد دکوم پیغام شوې
نه وزمه دکوم مشام شوې
نه د باغ شوې، نه د بام شوې

• • •

نه بورا درنه تاوشوی
نه بلبل درنه خبرشو
نه حُوځان چا درنه پرپکړه
نه لښتی دربرابر شو

زما په څېر لـــــمر والـوی
وینـه وچه ، رنګ بایـللی
سر په خاورو وایـــښوولی
بی ګناه له مـــینځه تـللی

• ● •

د بیدیا هـــر شوی ګله
ته لا نښـه یې ، زه دې ستایم
زه کـه مرم که تباه کـیږم
یـک تـنهایم ، یـک تـنهایم

د چنګابښ پنځلسم
۱۳۳۹
کوهـدامن

# د نیوا په غاړه[1]

نیمه شپه ده زه بیداریم
خوب می نشته، خوب به څوک
څوک چې ما بیدرده بولی
درد به څه، آشوب به څوک

---

(۱) نیوا : یوسین دی
چې له لنین ګراد څخه تیریږی .

زړه مې غواړي چې نارې کم

دنيوا د سين په غاړه

لېونې په ځان خبر کم

پې کم خلاصه خپله غاړه

• • •

دا سحق په کليسا کې

لاجاري د مزدورو يې

دا خوزه ګناګار نه يم

چې ته روندي ئې وينې

• • •

دلته هلته، ښکته پورته

توپانونه، توپانونه

لاخوځېږي، لاجګږي

بحر بحر، غرونه غرونه

لادسړی دمیدان خوا کی

پورته کښې فـــریادونه

په نیوا لاروان دي

د تاریخ انـــقلابونه

• • •

دازانګو دانـــقلاب ده

زړه ځاله د بـــازانو

نوی کورد نویو خلکو

امید ځای د نامـــیندانو

• • •

PROPERTY OF ACKU 2689

اې پیغلو تواې ځوانانـــو!

اې سپین پوستو، آتورپوستو

سره یوشئ، سره یوشئ

اې تورځمنو، ژیړو ویښتانو

چې ځان وینمه شرمیږم
ژبه ګونګه، سر بې شوره
ژوند بې نوره، زړه بې عشقه
پښې مانې، مټ بې زوره

• ● •

اې د ژوند خوږه نسیمه
یوځه زور را، یوځه اور را
نه زړه کې لمړ د عشق را
په دې لمړ کې ګرم کوره را

• ● •

یا ترخه را، یا خـــواږه را
یا شراب را، یا کوثر را
یوه لحظه کې، یوه شیبه کې
یوه لمـبه را، یو شرر را

زما زړه ته لوی محل را

زما کور واړه جهان که

څوک راورونه که، څوک خوندے

یو وجود را ته انسان که

• • •

زما نظر لکه دباز که

پلن په غرونو، خپور په ترو

زما لیمه لکه باران که

هم په لوړو، هم په ځورو

• • •

ماته هسی سترګی راکه

چی سپین وویم په تورکی

ماله هسی توفیق راکه

چی ایره نشم په اورکی

د مظلوم اونبکی دریاب که

تري اوچت که توپانونه

پرې خوره بریښنادعشق که

تربنه جوړکه جـــهانونه

• ● •

یوجهان دانســـانانـو

چې کې خوارا وامـــیرنـدوي

چې ځگیږوی تري پورتـــنـے

څوک دبل چا اســـیرنـدوي

• ● •

اې دژوند خوږه نســیمه

لـپـږ راغبرگ شـه په بازانو

ددې دښتو په خوب وړیو

ددې غروپه لـــیونیانو

یوځل ویښ که جګ جګ

دازمري له دې خنګلو

یوځل پورته دا پردې که

له خیبر وله ګوملو

• • •

ای دژوند خوږه نسیمه

ولې چوپ یې لیږ ګویاشه

خیرکه موږ ددوزخیان یو

لیږ پخلا شه ، لیږ پخلا شه

دجولای لسم

۱۹٦٤

لنینګراد

# ژړې شپې

هره خوا ګلان خزان ځپلی دي

باغ کی د بلبل ځاله ویرانه ده

وږی څو بیا د غم ژړا سر کړې ده

دا د غم نړۍ په غم ودانه ده

باد دونو پاڼو کې ناري وهي
مني پې غوږو کې څه ويلې دي
سترګې د فلک له وينو ډکې شوې
ګوره زمانې بيا څه کړلې دي

• ● •

پاڼې د چنار لکه زما هيلې
ژيړې ژيړې بنسکارې ژيدلې دي
ژاړي دنيا کونډو لوڅو څانګو ته
سترګو کې پې وينې توکيدلې دي

• ● •

هالته د زړې کلاپه وره باندې
کونګ بيا زړې شوې ترانې وايي
ګوره په دې شپه کې دا زړه بلا
بيا د چا افسون ترانې وايي

ناست یمه، زنګیږم په غمونو کی
تورہ شپه روانه ده منزل وهی
پورته د آسمان په لرې سیمو کی
وریځو کی یوستوری کله ځل وهی

• • •

کله د کوټې په تورلوګن زړه کی
وخاندي یوه هیله راته ورانه شی
څوچی زه له خوبه ستړګی پاځوم
بیا هغه ویده شی پښیمانه شی

• • •

وړانګی د سکروټو د کوټې په چت
ږیږدي لکه مینه زما په وینو کی
غم په تورہ شپه کی اسیر کړی یم
خوځی می په پلوا وپه رګونو کی

اې دمنی ژبړواوکړاروشپو
وخوځېږئ، لرې شئ اوتېرشئ
پریږدئ چې دواورو برستن پلنه شي
پټې شئ تراورولاندې هېرې شي

• ● •

وځلېږه تراې مقدس لمره
رنګ کړه دسبا پسرلی ګلان
دغه غمځپلی خاوره ګرمه کړه
وخندوه دغه ژړنی آسمان

دلرم دریم
۱۳٤۵
کابل

# د شکوکور

څه ده د ژوند د ماشومانو آرزو
چې سپېر وخاورو کې خوسی وهي
له تشو شګونه مانۍ جوړوي
ګټې راباسي اوستمی وهي

اې دکوځ خورو وروملګرو
راځئ چې نوې لوبه سازه کړو
دغه شګلن کورونه وڼړوو
ځان له دې خاورو بې نیازه کړو

• ● •

دغه دشګونا تمام کورونه
زوردسیلاوزلزلونلري
داتورې خاورې، دافاني باغونه
ارزښت دجنګ اودعوونلري

• ● •

راځئ چې هیلې څه رنګینې کړو
راځئ چې نوې ترانې ووایو
دزمانې په دې زړوغوږ وکې
دژوندون نوې افسانې وویو

ملګرواې خورو وړو ملګرو
لږدې وپرېږم چې نابنادبه شئ
دزمانې د توپانو مخې ته
کسره یونشئ برباد به شئ

دتلې شلم
۱۳٤۳
کابل

# وصیت لیک[1]

کله چې مړ شمه یارانو ما

ترتورو خاورو لاندې پرې باسئ

په ډبره پراخه اوناپایه بیدیا

دخوږ یوکراین زړه تنبکیا سئ

---

(۱) داشعر دیوکراین دمشهور شاعر ناراس سوچنکو اثر دی .

هسی چې ارت اوهوار دښتونه
درست دنیې راودهغه څنډې
بنکاري اووايي وزې زما غوربونه
دسین غورکی اودځپومنډې

• • •

پرې باسئ ما اوتاسی پاځېئ
بندونه مات کئ، کړی وشرنګوئ
ددښمنانو په ناپاکو ویښو
فتح اوبری ملګرو وولمبوئ

• • •

کله چې نوې کورنۍ جوړه شی
هغه چې سترګه اوآزاده وي
ستاسی په نرمه مهربانه ژبه
یوه شپېږه غواړم زما یاده وي

داکتوبر شپاړسم
۱۹۶۷

# سرگردان

خو څمه د ژوند له قافلو سره

زه یو د مزلونو سرگردان یمه
خدا زده د غرلاره کوم پلوته ځے

زه داهسې چا پسې روان یمه؛

څه وايي د ژوند مسا پرانوته

دا د کاروانونو د غمو جرس

کومې خواته ځې څېړلی په زړه دي

دا بيا بانګرده لپسونی هوس

دوبي شپږم

۱۳۳۸

کابل

# کېږدی

هالته دوچ ډاګ په لمنه باندی

دمنی باد ته یوه کېږدی ږیږي

په دې کېږدی کی یوه رنځوره ښځه

اوربلوي اوله دردو ژړیږي

دکمیسه له ترازوخه یې
دبی پناه صورت پوستکی بنکاري
دوجود غوښه یې رنځوره لی
په هراندام کې یې هډوکی بنکاري

• • •

یوډنګر سپی ګردله کیږدیده ګرزي
یوه زړه اوښه په اغزیو چوده
دخاورو دومړوکاروانونه روان
دمازیګر ستړکه په کښښتوده

• • •

دغه کیږدی دامسا پره ببړه
چې لاړې نغاړې اومزلونه وهی
کومه خواد رومی، چیرې لاړه کوي
دخه لپاره واټونه وهي

اې تورې تورې د سارا بـــرې ده
د بې وطـــنه پوونده وويـاړه
وايه چې کله به منزل تـــه رسې
ستا د ســـتومانه ژوند اوږده لاره

دتلې پنځه ويشـتم
۱۳٤۳
کابل

# چونغړه!

## (۱۲) ترانه

پرون پردیسو آواره وریځو
چونغړه، غوږ کې ناڅه خوږیل
له کومه رنځ یې شکوه کوله
چې کړې شپې یې ستا پښتو تړل

دا ابدي پردیسان چې درومے

د دوی دمنډو سرانجام به څه وي

ولی په غرونو، په رغونو ګرزي

د دې ستومانو کاروانونو مرام به څه وي

• • •

کله آسمان کې داوښانو غوندې

غلې خوځېږي او مزلونه وهي

کله وحشي شي، تو پاشي پسې

په غږ وردانګې یرغلونه وهي

• • •

کله شي بنکته د چترپو په څېر

د غرولمنو ته خیمې ووهي

کله هیلې غوندې د سین پاوبو

بنکته شي ولامبې غوپې ووهي

کله دغږ وپڅوکو څوکو باندی

کتارکتارشی کاروانه تړي

کله شفق کی سره لمبه شی داور

سپینومالوچوکی اورونه تړي

• • •

کله دشنه آسمان په پاکه دره

ایرانوونکی تصویرونه باسی

کله سپوږمی ته پالنګ وغوړوی

خپل تږي تږي ارمانونه باسی

• • •

کله دواورو انبارونو څخه

لمن راډکه کړي توپان راولی

کله بیاخاندي اوسنۍ ژبولی

پسرلی وروزي ګلان راولی

کله ترپښو کړي بياسينو نه غږونه
په پراخ آسمان کې سرګردان ګرځي
نامعلوم لوري ته مزلونه وهي
اوړي را اوړي او ايران ګرځي

• • •

چونګړه زه هم ستومان شوی يمه
له دې ښکونده سره ژوند څخه
راځه په ګډه باندې ولوځو
لاره د تښتي له دې بنده څخه

• • •

د دغو ګرزندو وريځو په شان
آزاد پرواز، آزاد سفر غواړم
چې ما پراخ آسمانونه ته بوزي
هسې شهپر، هسې وزر غواړم

څرخم به ، رغړم به ، بهیر مه به

تل به آزادې ترانې وایم

د آسمان ستورو اوپیرونو ته به

د سړې خمکې افسانې وایم

دلیندې خوارلسم

۱۳٤۱

کابل

# چونغرته

## (۱۳) ترانه

اې د بلا او حادثو چونغره
بیا دې په زیره باندے سپین سنگار

نه نه په غاړه دې دواورواښل
لکه د سپینو لونگین سنکاري

دسپینوواو روتر دلیو لاندی
عجیبه دروندا وښایسته ښکار

څومره مغروراو بې پروایې ولاړ
له درست جهانه وارسته ښکار

• ● •

ستایی پې څه چې سین کنګل نیولی
اوکب نیوونکی کبان نشی نیوای

یارنځورغاړی اوکمزوری بوتبه
په دغوواو روغروته نشی خنډای

• ● •

ستایی پې څه که ستا په لوړوځورو
واورې له بادسره نخاوې کوي
یاخواره مورچیلی رنځورې لورته
شوګیرې ګالی اوژړاوې کوي

ستایی پې څه کللمی کاره بزګر
لرګی اوبوټی دخپل سون نلري
یایې ماشوم چیرې ګریوان ګرزي
موریې ګنډلوته یوه ستن نلري

• ● •

ستایی پې څه کې مسا پر مزدوران
له کاره پاتې دي اوګورنلري
یا هغه مزی بې شعوره سودخور
په چاز ره سوی نلري، ورورنلرې

• ● •

ستایی پې څه کې دوطن حاکمان
خلکو ته ګوا بنی اوبیګار چلوي
په هغولاروچې خرنشي خټا ی
په انسانانوباندې بار چلوي

هوته همداسی بی شعوره اوسه

ستایې زموږه له دردوسره څه

ټاته دواورو خولې ټاج برېښی

ستایی له لوږو او مرګو سره څه

دمرغومي لسم

۱۳٤۱

کابل

# چونغرته

## ( ۱۸ ) ترانه

یه دډبروتوردبې چونغره !

ماوې چې وینې دې کم ملګری به شې

دستمګرود سرکاڼی به یې

دزیارایستونکودزړه خوری به شې

ماوی چی وینښ دې کم، مرچل به شي

د دې یاغی زړګی تسل به شي

زما د سړي مینې محراب به شي

ژوند به شي منډه او تکل به شي

• ● •

ماوي چې وینښ دې کم، عیسی به شي

د دې وید وخلکوته به ساورکوي

په سر وسمځ کې به اور بلوي

تیارو دروته به رڼا ورکوي

• ● •

ماوي چې وینښ دې کم، جهان وینښ شي

ته لا ویده یې خو جهان وینښ شو

دغه کارګر، دا هستوونکی جهان

دا د هستۍ جوهر انسان وینښ شو

اوس کړته نه پاخېږي، مه پاخېږه
په کروندو کې دې دهقان وينښ شو
مالادیوي بريښناسو الونه کول
خو آسمان زړه کې توپان وينښ شو

• • •

اوس راوينښ شوی د پېړيو غلام
په مرورګو کې دې ژوندون خوځي
له هر کمره د عشق آواز وزي
په هر لويشت کې نوی يون خوځي

• • •

اوس راجګ شوی د ی جهان جوړوي
دا زيار ځپلی، رټل شوی انسان
دا د پرون زېرکالونکی اسير
دا د سبا د کائناتو سلطان

# چونغرته

## (۱۹) ترانه

دغه را اوري دباران څاڅکی

که لهخوږ من زړه دتوپان څاڅکی

یاسره ایښی په دره دره کی

هم دباران، هم دتوپان څاڅکی

کړسره یوشی دارنې قطرې
وطن به واړه شی څپې څپې
نرمی اوبه به شی تېرې تېرې
دګلو پاڼی به چرې چرې

• • •

هلته دغرو په څوکو څوکو باندی
د توروورځو برسنا حُغلی
دخوب څپلی بنارې خښتې خښتې
دژوند دتالندې غوغا حُغلی

• • •

دپسرلی دباران بنکلی شرنګی
دامید ونو ترانې خوروي
دزړې خاورې په ستومانې زړه
زېری دنوی زمانې خوروي

پرمړه ببد یا به پسرلی راشی
زه پرچمن کې نوی ژوند وینم
مړاوي ګلان به وز روغوړوي
زې له سباسره پیوند وینم

• • •

چونغزه وغږوه وغږه
نوی انسان تر سباساز وکړه
پر پرده چې واوري دغه نوی انسان
دخپل وطن د مستقبل راز وکړه

• • •

د باران غږ دامید ونوسرود
دخوروخلکو د ننګونوسرود
پر پرده ویدو غوږ وته وغږوي
د زیارایستونکو د جنګونوسرود

چونغړه اې زما دارمان چونغړه
زما د شعر قهرمان چونغړه
د ې خپل ګوګل ته خولې ښنه باسه
یوځل زما یاغی توپان چونغړه

• ● •

پرې ږده سړې بڼې دې کرمې کړې
د غه شعر و نه، د غه سړی لمبې
پرې ږده د غو ږ پردې دولړزوې
د وطنپال زړه ابدي نارې

دتلی دیارلسم
۱۳٤۸
د هانئ غوری

# چونغره

## «۲۱» ترانه

چونغره سنا په تړو تړو باندی
زمونږ داوښکو بارانونه اوري
خدا د رحم اوبه ندي کړه
په ټاد خلکو غضبونه اوري

ستاپه دروکی بیادکارپرگنې
دحاکمانوشلاقونه گالی
دتالښوکوترلمنی پورې
دښولپوانویرغلونه گالی

• • •

دتاهرکاڼی دبزگرودسر
دتااغزی دهربزگردحیکر
دتاهراوردبیوسانوپه کور
دتاهرسپل دمزدورانوددر

• • •

دتالمن دبې لمنولمن
دتاهستی دبې حاصلوهستی
دتاغوغادنازولوغوغا
دتامستي دمستبدومستي

دتاحُوځان دبزګرانو برخه
دتاغنم دنازولو شومه

په هره لاره کې دې اینبی ټلک
په هره پوله کې دې لکه لومه

• • •

دتاخوراک دبزګرانوغوښه
دتاشراب دزیارایستونکو وینه

دتاامیل ددوی درغووپولې
خودتامینه د ظالمومینه

• • •

اې د ظالمو مستبدو کوره
آیا زنګونه د زمان درځی

موږه یې وینو په رښتوستر ګو
چې ستاالمنی ته ټوپان درځی

ننۍ یاسبا به سرې ځونی ورځی
سناهرې پرښتې ته پیغام راوړې
دغو بزګرو د ربـــد روته به
زیری د جنګ او انتقام راوړې

• • •

باد د غضب به په دره دره کی
بولـه د ولس د وینې سپـدو خوره کی
دا د ظالمو د دوران ننۍ به
واړه له بیخ اوله ریښې چپه کی

د مرغومی لسم
۱۳۴۹
پلخمري

# چونغرته

## «۲۲» ترانه

ای د شعرونو والهامه چونغره
بیا می مغزو کی ترانې خوځی
ستا د کمرونو په قدم قدم کی
د ژوند د مینی زلزلې خوځی

گلان خپاره کړه چې بلبل دې شمه
خپله مستی کې یوه غوغا خوړه کم
بې روحه تړوته دې ساورکم
په مړو رګو کې دې رنا خوړه کم

• ● •

ستا په هر موټی کې د ژوند سرود
له ورایه وینم چې څپان خوځي
ځکه زما په لټونې شعر کې
د ځوانو هیلو یو جهان خوځي

• ● •

ګلونه وغوړوه جار دې شم
شپې د بهار دي چې بهار شي مست
خیر دی خیر دی که تر بې یمه
پرې بنده چې تنده او خمار شي مست

پر پرده چې خاورو ته دې وغږوم
د ځوانۍ مینې ترانې تر اپې
په مړو هډونو کې دې وخوځوم
بې حرکته زمانې زمانې

• ● •

وريځې رابولمه چې واوروي
سترګې په کمرونو د رحمت باران
برېښنا به وباسي په وچو ترو
زما د مینې ابدي عنوان

• ● •

خپلو شعرونو ته به ژوندون ورکم
ژوند ته به نوی شانی خوندون ورکم
آزرده هیلی به پخلا کړم بیا
مات شوي زړه ته به پیوند ورکم

چونغړه ، اې زما د شعر و چونغړه
څوچې نړۍ دوي ته آباد اوسه
د زمانې له چپاوونو څخه
تل په امان اوسه ، آزاد اوسه

د چنګابښ دیارلسم
۱۳٤۸
کابل

# چونغره

## ۲۶ ترانه

چونغره بیاسپینی یاغی وریځی
کښنودې ستا پرځیږ وشوند وشونه
دا آسمان د حواد ثولـــــولی
دا توپان د تندرونو کوندی

بیایي شلولی دی جامې له تنه
چاک دحریرنیې پندی ښکاري
په اوسپلوکی یې د تیوکو بڼه
لکه څپوکی چې ببړی ښکاري

• ● •

څومره وحشی ده د آسمان پیغله
دا دحریرله پاغوند وجوړه
دا د سپوږمیولهٔ مرمروتی
دغه د ستورولهٔ ایروجوړه

• ● •

دواړه مین یوخود دوو کارو
زه د ننګونو، ته د ځوانو مین
ته د لیلی دا ننګونو مین
زه په لمبوکې د جنګونو مین

ته د آسمان د سپینو نجونو عاشق
د رښتو شپو د وصالونو عاشق
زه د سړې ځمکې په مړه ګوګل کې
د زلزلو او توپانونو عاشق

• • •

ته د بنکلا او مکیزونو لپوال
زه د لمبو د پرغلونو لپوال
ته د بزمې کې د خوبونو مین
زه په تیارو کې د جنګونو لپوال

• • •

تا زړه بایللی د آسمان په مینه
ما زړه بایللی د انسان په مینه
ته له خپل عشقه ټول جهان جاروې
زه چې ژوندی یم د جهان په مینه

بنه شوو چې ایل شوو دا یا عشقونه
بنې شوې چې تم شوې دانا تمه مندې

بنه شوو پوره شوو دا زمونږ ننګونه
بنې شوې عبث شوې د آسمان ملنډې

دلبندی دوهم
۱۳۵۳

# چونغره

## ۲۷ ترانه

چونغره اوس دې په خورو دروکی
زما دگرموچیغو زور ولیـــد؟
بیا دې په ستر گو د زپارکښ انسانکی
دراوښې شوي ژوندون شورولید

بیاخودی ولیدہ چی وسپرېده
په مړاوي ګل کی ویده شوې خندا
دزمانې سترګوکی وبرېښېده
زموږ دتورې غلی شوې برېښنا

• ● •

ستوري دې ولیدلچی وځښېدل
ستاپه آسمان لکه په ګلو پرخی
سپوږمی دې ولیدچی وایستلی
ستاپه لمن دسپینوزروکښې

• ● •

غرونه دې ولیدل چی ولړزېدل
دریې دې ولیدې چی وخوځیدے
لېوانې دی ولیدل چی وتښتېدل
رمې دې ولیدې چی وځښېدې

آسمان دې ولیدې چې وغوږېده
وریځې دې ولیدې چې وځړېدې
سیلاب دې ولیده چې وخوځېده
څپې دې ولیدې چې وځرخېدې

• ● •

وطن دې ولیدې چې پاځېده
خلک دې ولیدل چې وښوړېدل
دوستان دې ولیدل چې وموسېدل
دښمن دې ولیدل چې وژړېدل

• ● •

دا درانلونکی رسېدونکی توپان
د سرآغاز او درانلونبنې دي
د دې وطن په درد پدلی زړه کی
د سرې ژوندون دوینبنبدونبنې دي

دابله هسکه تندرونه اوري
دابه په خمکه سرې لمبې خوځې
زموږ دسرونکو په فخرکې به
دتولوخلکوپل اوپلې خوځې

• ● •

اوس خودې ولیدل چې وغورځیدل
له غټوخرونه طلایي زینونه
د طبیلو په سورونوتل
بیرتۍ واچول په ځان ځلونه

• ● •

ماچې سندرې وې دغرواغزوته
هغواغزیواوس ګلان راوړل
هغه ډکلود ژوندون دښمنان
دقبرغاړې ته زمان راوړل

چونغړه ، اې دافسانو چونغړه

زما د ګرمو ترانو چونغړه

اوس خوتاوده کړ د ژوندون سا زونه

دوینې بیدونکو ولسو چونغړه !

د چنګابس اته ویشتم

۱۳۵۳

کابل

# شاعرته[1]

## (لومړی پیغام)

اې د بند واوزولنو شاعره

دوښیو تر یوې بنسټ نوشاعره

لادرکی شته دې څه سکروټی کړنه

د پرونیو سرولمبو شاعره

---

(۱) له شاعر نه مراد اجمل خټک دی

ستا په سندر واوس کامونه خوځی

ګوره چې غلی نشې، هیر نشې

زه د آسمان لوبه بدله وینم

ګوره له خپله هوډه تیر نشې

• • •

له هر آوازه سیلاوونه وزې

له هره شعره زلزلې خوځی

له هرې چیغې دمړه نوسره

د ژوند اوهیلو قافلې خوځی

• • •

وچه بیدیا به سره ګلونه راوړې

په هدیرو کې به خندا خوره شی

د دې تیارې څمکې په ګډه کې به

د پسبنتنې توري برېښنا خوره شی

پلوړوخۍ کوتوري وريځې خوځې

په درانه نس کې سيلاوونه لري

په غصه شوي دردبدلې زړه کې

حوانې څپې او تندرونه لري

• • •

دهرې ټالندې آوازک کوره

دنوي عصر پيغامونه لپرديي

دغرو دسر دافق نه پورته بنکته

دنوي ژوند انقلابونه لپرديي

• • •

د هند وکش د باران هره قطره

مخ په اتک اوابا سين درځي

دلته د تللو بله لاره نشته

هرڅه چې خوځي لکه سين درځي

د سحر بادچی ستا بارخو مچوي

دغه زموږ ده او سپلی دي کنه

ستاد زړګی داغوته غوته وینی

ګلونه زموږ د پسرلی دي کنه

• ● •

پام کوه ګوره د رنه مړاوي نشی

دا به باغونو ته رنګونه ورکی

د پښتنو دا وربل نذرانی که

چی عاشقانو ته ننګونه ورکی

• ● •

د ناموسی د هند وکش ترانه

زما نخاد ابا سین سندره

راځه چی جوړه کړو په دوارو وزر ونو

یوه غوته شوي پښتنی خبره

راځہ چی نوې پیالی وکړنګو و

راځہ چی خلکو تہ سوماورکو

راځہ دې ورکو دربد رولرہ

جذبہ د مینی اووفا ورکو

• ● •

راځہ پہ غړو کی آزادي وینہ کو

راځہ چی خاورې تہ احساس ورکو

کے

راځہ پہ شپولو برېښنا خورہ کو

راځہ چی کاڼو تہ حواس ورکو

• ● •

پام کہ لہ خلکو نہ بیعت مہ غواړہ

راځہ چی موږ دوی تہ بیعت ورکو

راځہ د خلکو د عزت لپارہ

پہ قربانی کی خپل عزت ورکو

ستازړه کړسوی، زړه ئې لاسوځم
ستافریاد ونوته طاقت ورکوم
زه سورانګاریمه داغونه زړه مه
دغیرت چیغوته قوت ورکوم

• • •

هره څپه چې په لنډۍ کې خوځې
دنادکړ موو ینو شور نبیي
هرنوی بادچې په وطن خوریږي
دنادځوانا هیلو زور نبیي

• • •

څوک وایي داچې ته شعرونه لیکې؟
څوک وایي داچې ترانې جوړوې؟
شاعرخو هسې نه کله حسن ستا ئې
ته ستر انسان یې زمانې جوړوې؟

خدی داژوند، دالندا وسپلی کے
چی دیو بے گرمی چیغی زورنلری

راځی داز رونه سپوته وغورخوو
کهچیرې اورنلری. شورنلری

• • •

کوم د تیاره دې وارخطا نکړي
اجمل شپې پسی خولمر راځی
زه چی د خپلو پیغلوورځی کورم
ماته پدستر کو کی خنجر راځی

دکب شپارسم
۱۳۴۴
کابل

# شاعرته

## دوهم پیغام

ای خوږه یاره د غمونو آشنا
د حوادثو د کلونو آشنا
ته د اټک د سرکښیو گواه
زه د پامیر د توپانونو آشنا

غیږه کړ خلاصه چې آشنا درځی
کاروان د مینې او وفا درځی
ستاسې د تورود جګړې ډګرته
پیغام د فتحې د سبا درځی

• • •

د غلامانو د ځنځیر ساز ونه
زمونږ په غړو کې ولولې خوځوي
دا نوې نوې تقاضې د زمان
د ولسونو رګ او پلې خوځوي

• • •

شعر چې لیکمه لمبې وهی
لکه آموشی اوښې وهی
داد ببلتون په اورکی سوی زړګی
چې تارا یاد کړمه ناري وهی

زړه رانپرېدې کچې څاوردرکم
د شوردپاسه نوی شوردرکم
مټ له پولاد وسړه وجنګوه
زه به دې جنګ تر نوبے زوردرکم

• • •

پردې تیاروپسې رناراځی
میدان د تورونن سباراځی
دبیلتانه د تورولړولړ شا
شغله دستر کو داشنارالځی

• • •

د نړۍ باده مستانه راځه
زه د مستۍ څوارمانونه لرم
دلپونیو د محفل نذر ته
په زړه کې پټ څو پیغامونه لرم

ای ترایرو لاندې مخې اوره
لیږمی رسوا کړه رسوا ښه یم
پټه نغمه یم دفطرت په زړه کې
تر دې یوه چیغه برالاښه یم

• ● •

ما دا کمکې غمونه - نه غمونه
زړه کښه مالړه لوی غم را کړه
سرمی کوچنی صنم ته کوزیږې
یوبې همتا غوندې صنم را کړه

• ● •

راته ښکاریږي چې اوس لمر خیژي
دشپې ملنې کې رڼا ښکاري
دزړه کړکې چې څنګه خلاصه کړه
منظر دنوې پښتونخوا ښکاري

دآزادی د موزیک مستی څپې
لکه سیلاب په پښتنور درځی
غوږونه پرانیزه دردمنه آشنا
کوره چې څومره زور ور درځی

• ● •

دلته هاتیانو ترکړی لوبدلی
خواوس مستی کوي کړی ماتوي
دآزادی نه راوتلی فریاد
دا پرونی زړه نړی ماتوي

• ● •

دهند وکش لمن کی ننوي کلان
راغوړیدلی دي وږمي خوروي
دسرو غرونو په ذره ذره کی
راغورځوونکی زلزلې خوروي

ستا چیغی اورم خو تر وروسته نه یم
حُکه زه کُورم چی دوا درځی
دتوري شپې له تیاري مه وېره
سپیدې چا ودلی دي سبا درځی

د زمري دوولسم
۱۳٤٦
کابل

# د کنړسین

یه مستر مستر ، کنړه مستر
پر ځکو پټه ، په تګ بد مستر
پیړۍ تیریږي ته ورته ناڅې
اوږې را اوږې قرار دې نستر

په سړي درومي سپينګي ځګونه
لکه په شنه کې دوړي ځوغرونه
هسې ښکارېږي لکه چې ورا کې
نجونه په سروړي د ګل شکرونه[1]

• • •

دغه چې بولې د ژوند سندرې
درې بوللی، خوږې شکرې
چاته ژې وايې، چاته يې لېږې
دا بې اثره، دا مرغلرې

• • •

چاته ورښيې داغور ځنګونه
سرکشي مندې، آزاد موجونه
په لويو کانو کړه ټوکې
د چالپاړه دا ټکرونه

(۱) شکرونه د شکور جمع دی

داځ جنون دی ستا په څپو کې
داځ مستي ده ستا په رګو کې
ځ هنګامه ده چې پای یې نشته
ستا په سرودکې، ستا په ناروکې

• • •

له بناره راغلم چې خوب به وکړم
تسل د درد او آشوب به وکړم
ستا څپې راغلې نه یې بیدار کړم
په ماحرام دی چې خوب به وکړم

• • •

اوس چې ستا زړه کې څپه خوځیږي
شعر او سرود شي له ما خوږ ږي
خلکو ته ورمه د تا خبرې
پې راځ وندي شي ورته نخښې ږي

اې لېونیه د کنز سینه
چې د ې اخته کړم په رسوامینه
اوس خونو ورکه دا زما زړه ته
خپله څپانده سرکشه وینه

• ● •

غیږ د ې کړه خلاصه چې کمسمی
ستا په څوکې اوښکې ویرجنی
ستا په توپان کې خپل شور خوندي کم
چې زرغونې کړي رالوڅې ونې

• ● •

زړه نړۍ دې، نوې نړۍ شي
په دې تیارو دې رڼا خوره وي
د عشق د دود دې هره بلې شي
دورور ګلوی دې هره باندې وي

یه مسته مسته ، گنده مسته
په حُکو پته ، په تگ بد مسته
د ژوند جالۍ می درکې لاهو کړه
اوس یې د نیسۍ زبردسته

د سلواغې څلیریشتم

۱۳۴۳

جلال آباد

# لەدرباري شاعرسرە

دښکلوڅونواوګلونوشاعر

پەسپينولېڅودخوبونوشاعر

دفحاشيودبزمونوشاعر

دڅوخيرنوآرمانونوشاعر

په دې نرمه مهربانه شپه
مانه پوښتل ته هم شاعر پې ګوره؟
د ژوندانه په دغه ښکلې لارې
ته هم د حسن مفسر پې ګوره؟

• ● •

ته د ګلانو نرمې اوږې؟
ته د پسرونو ترانې اوږې؟
ته آوازونو کې رنګونه وینې؟
ته په رنګونو کې نغمې اوږې؟

• ● •

ته د ژوند شوندې ونښه لیدلې؟
ته یې د سرو شیشو شراب څښلې؟
ته په مالګینو پستو شوندې ایښې
ته په سکرو توکې ګلاب څښلې

دلند وځنو ترچتر یو لاندی
دغوږ برېښنا په زړه ویشتلی نه یې؟
کله نښه کی د پسغلو توخندي
په هوسونو کی ځیپنلی نه یې؟

• ● •

دمستی ښځی یا غی شوي نظر
تا په شرابو کی لیدلی که نه؟
د عشق آواز دې دهغی له زړه نه
پداوسپلو کی اوریدلی که نه؟

• ● •

دتورکمیس له سپخبدلی درزه
دنجل پوستکی تخنولی نه یې؟
تاچی د حسن لوټماري کوله
هغی په غلا باندی نیولی نه یې؟

کله دې حورود مشـــرقه سره
دمی جامونه جنـــګوی کړنه؟

کله دې تی دمغربی بنا پیړۍ
په نخښدوکی زنګوی کړنه؟

• ● •

کله دلندو کمیســـونـواعجاز
له ساړه عقله راایســـتلی نږدې؟
بیا دغو بنـــینو بلورینو ورنو
دشوق په اورکی سوځیدلی نږدې؟

• ● •

تاخلاصی کړې دي دنجونوتنه
تالـه چا ایستی دایســـتلوجامی؟
چاچی پټ کړی په شوخی کی بدن
تاپې چیرلی د چیرلـوجامی؟

کله دې شین کمیس په سپینو پښتو
چېرې لیدلی چې ښویږي پسې؟
له زنګونو تر ښکلو تیو پورې
وړوروخوځېږي اولوڅېږي پسې؟

• ● •

تالوڅه شوې غنم رنګه جنۍ
سړې رنایي لاندې لیدلی کړنه؟
تادنښې په لپسونې جهان کې
پخپلو متوکې نیولی کړنه؟

• ● •

تاپه سینه باندې داغونه اینبې
دچادګرمو رپېدونکوتیو؟
تاپې ړوندلی دې دناروڅو کې
تړپې مست شوی پې په سپینو میو؟

کله د عشق اوګناهونو سین تر
په مجبوری کی بنویې دلی نه یې؟
د چا په ګرمه په تبجنه غېږ کی
زه و شرابو څملولی نه یې؟

• ● •

که ته شاعر یې د عشقونو اوسه
څه د شرابو څه د نجونو اوسه
څه د ځوانیو د خوبونو اوسه
څه د ګناه او د خوندونو اوسه

• ● •

ته په باغونو کی ګلونه ستایه
ته په ګلونو کی رنګونه ستایه
ته د زړي جامو په مورګو باندی
د چا د سر و شوند و لالونه ستایه

کټه شاعرۍ دغمونو مه شـــه
کورد دردونو اورښونو مه شه
دفریاد دونوکړاوونو مـــه شه
دټول عالم دعذابونو مـه شه

• ● •

ستایې دخلکولـه رښتوسره څه؟
ستاد بزګرلـه ورځوشـپوسره څه؟
چېرې چې غواړې پالنګ وغوړوه
ستایې لـه سمځواوکپوسره څه؟

• ● •

ماوې شاعره ،اې زړه شاعره
لادې ناولی هوسونه شته دي
لادې پـه سرکې دفتنې لوخړې
لادې پـه زړه کې فسادونه شته دي

تہ د سلطان د دربار ونو شاعر
زہ د محرومو ولسونو شاعر
تہ د خمونو او جامونو شاعر
زہ د پیړیو د قیامونو شاعر

• ● •

تہ د باچا د غرورونو شاعر
زہ د غلام د فریادونو شاعر
تہ د سلطان د نعمتونو شاعر
زہ د بزګر د سوکړو شاعر

• ● •

تہ د مانۍ د اقبالونو شاعر
زہ د کېږدۍ د دابارونو شاعر
تہ په بزمو کې د نازونو شاعر
زہ په زندان کې د مرګونو شاعر

ته د نیکمرغو پسرلیو برپښنا
زه د بدمرغو بارانونو ژړا
ته مابنامی کی د بزمونو نخا
زه سباوون کی د تپغونو ځلا

• ● •

زه د مظلوم د غورځیدلو گواه
زه د ظالم د غریدلو گواه
زه د دهقان په ویلی شوغوښه
د زمین دارد شخوند وهلو گواه

• ● •

زه د بې وسو د ځکړو یو آواز
د اسیرانو د پېړیو ژړا
زه د لسونو ته د مېنې قاصد
زه د ظالمانو ته د توري سزا

زه د بربند و د بـــزمونو نـریم
د خود فـروشود عشقونو نـریم
زه داغزویم، د ګـلونو نـریم
زه د وزخی، د جنتونـو نـریم

• ● •

زه عذابونو زبـــرولی یمه
زه تو پانونو آزمـــویلی یمه
زه د خونی بادوخپروپه مخ
ترزهرکرته د پروهـلی یمه

• ● •

زه د وطن د غریـــبیو بچی
د تورو شپو د بی وسیو بچی
د نامیندیو د سلګیو بـچی
د بی ثمره او ســپلیو بـچی

زه د غمونو عذابونو شاعر
د یو وطن د کړاوونو شاعر
زه د بزګرو د ننګونو شاعر
زه د کارګرو د جنګونو شاعر

• • •

زه چې شاعر یم د انسان د مینې
ر ببر ګالونکو ته شعرونه لیکم
زه په مالوچو کې لمبې کرمه
زه په بارو توکې اورونه لیکم

• • •

زه همدغه یمه، د غه به یمه
نګ د خلکو وم، نګ به یمه
د زیارایستونکو د مرچلو پر چم
لکه څواچې وم، هغه به یمه

# ورکه لار

غرونو بیا دلرو خادرواغوسته
بیا یې د تندي تبی لندې شولې
پاس له هسکو څوکو نه څرورته
رنګی دوریځو قافلې شولې

باد په مخه رڼا دوه رواوښان
ښکته ، لاهم ښکته، مخ په خوږوئ
خوږکی له نمجنو اولندو بوټو
څاڅی سارهٔ څاڅکی اوپه ټروئ

• • •

پورته د آسمان دمخ په ګونځو کی
ورکه ده له سره د نړۍ مخه
دم په دم بدیږي تودوسیموټه
لاړه د رمواو د کښت دی مخه

• • •

ورځو رنګی کړې د نجات نښی
واورو دلاړوو پښې ټرلی دي
لږو دما بنام په ګونګ خړه کی
غږوکی د شپنو لاړې وهلی دي

زه چې دد ې سختوا و سره وغرونو
یو دورکو لاره مسا پریمه
زه د یاغی مینی د وزره وپه زور
دلته خپلو ورکو پسې سریمه

• • •

زه چې په دې شپږکې له توپان سره
کند و ګړنګونو کې خوښیږمه
هیله مې دغه ده خپلو هڅو ته
زه به خپلې مینې ته رسیږمه

• • •

یه په ویده لمرکې د شغلو حوری!
پریږده چې په لیښته دې سرکیږدمه
مه ترهٔ، زما پرمخ وره ته!
شپه د پره سره ده او زه ریږدمه

پریږده چې دنا په توده غېږه کې
دا د مرګ د ورکې شپې سبا کړه

پریږده چې د مینې په مستیو کې
دا غرونو ورکه لار پیدا کړه

د مرغومی یو ولسم

۱۳۵٤

کابل

# ځوان شاعر تہ[1]

یہ دهپلمند دغور ځنګونو عطا
دیاغی سین د فریاد دونو عطا
دوید و دښتو په سره سینه کی
دیوملت د عذابونو عطا

---

(۱) هادي عطايی

دهرمابنام له وينو دګ ګوګل نه
ستاد خوږ من زړګی ناري اورم
دهرغمجن نسيم په بنسکلی ژبه
ستاد دردونو اشاري اورم

• • •

دتارګوته چی کوم سازراځی
ماتړي د غلته آوازراځی
ته دآغاز دلذتونو کافر
ماته ارمان اوس دآغازراځی

• • •

دسړي شپي پراوسپلوکی ولی
ماته رالېږي دا سړي ساوي
دادناصوروځيګرونوځکړوي
دادپېړيو دغمونا وي

ته وایي وسوم، زه دې سوے غواړم
چې سوی نه وي خو پتنګ نه وي
ته د حرمان په چړو ژوبل نښې
چې ژوبل نه وي خو د جنګ نه وي

• • •

په آرامۍ کې دې زوال وینم
شاعره ګوره چې خراب نشې
یا غې څپه شه د دریاب په زړه کې
ګرډا به ګوره چې سراب نشې

• • •

شرم دی شرم د سارا اغزي ته
چې رنګ او عطر د ګلانو لري
پښور په پښور دی د توپان مرغ ته
چې لطافت د بلبلانو لري

کله‌چی ونخښې توري څپې
کله‌چی وځړېږي خړې لړې
کله‌چی وابښی سپینې ځګوند
کله‌چی وځبی د غږونو ترې

• • •

کله‌چی ووزي له یاغی وریځو
د قهر جنوتندرونو آواز
کله‌چی یوشی د دریاب له کرېکو
په یرغلو کی د برېښنا وو پرواز

• • •

هله دریاب، دریاب بنکارې
د قدرتو د عظمتو نوزانګو
ستر برېښی، بنکلی او ژوندې برېښی
د حرکت او بدلونو نوزانګو

همدې یاغی، یاغی، یاغی ترگوړه
څومره قوي اوهیبتناک ښکاري
رعب او وېره او پرتم خوروي
آزاد او ښکلی او بیباک ښکاري

• • •

ته هم دریاب یاد دریاب زوښه
دسړه هیلمند دسیلاو ونوشاعر
یادوطن دسوځو ونکو وړځو
د یرغلونو، گردشونوشاعر

• • •

شه د ساړه رغلی په مړوایروکی
دبیالمبود بلبد و هادي
شه دځپود شوگیریو همراز
شه د هیلمند د ترانوهادي

هیلمند خومست دے، د مستیو شاعر
زمون د هیلو د هستیو شاعر
د زمانې د سرکشانو سرکش
د د ې وطن د بد مستیو شاعر

• • •

لکه له زغرو تبنتیدلی ښامار
له هری تیزې سره تن وهی
په هره پربنه باندی خوله لګوي
نویو سیلونو ته لمن وهی

• • •

د ی د محمود د حماسو شاعر
د ی د مسعود د تلوسو شاعر
د ی د آسمان د تندر نو ویاند
د ی د سرو وینو د کاسو شاعر

دی دافغان دعظمتونو ړاوي
دی د مېرویس دیرغلونوراوي
دی په ایران کې دهوتکو وړوهنو
د ترخوماتوا و مرګونو ړاوي

• • •

دی د وطن د کړاوونو نارې
دی د تاریخ د مرسلانو امیر
دی د جهان د حواد ثو نهنګ
دی د زمان د آسمانونو قجیر

• • •

دی د کلونو په تیارې تونل کې
په سختو لارو د مزلونو هادي
دی د پېړیو په ستومانه زړه کې
په اوږدو شپو کې د صبرونو هاډ

که ته رښتیايي دهيلمند شاعر
دياغی سين دغور ځنګونو هادي
نود پيړۍ پرکې چنه لاړ کی
شه د زلمو دارمانو هادي

• • •

ورځه راوښې که د غضب بادونه
پرسپين ميدان شه د توفان هاډي
ورځه مانوشه، د نجات مانو
په سختو لاره د انسان هاډي

• • •

باندی راووزه د جګړې ډګره
لويو ننګونو ته قوت ورکه
له کلکو ګارو سره وجنګيږه
ځوانو موجونو ته طاقت ورکه

د دنیست بادونې چې ځکړو یې عبث
ورکړ دا ته د جنګیدو څه به
د دې بیدیاوو دخورو پرکنو
د وینې بیدوا وجګیدو څه به

• • •

دې توره تورو غروته وغږوه
د خپلې سرې فلسفې سره شعرونه
د غوسې وخاورو ته نه باسه
لکه داور غوندې ټاوده شعرونه

• • •

دې کنو خلکو ته غوږونه ورکه
پریږده چې واورې د توپان آواز
دا د جهانه یتیم شوی وطن
پریږده چې واورې د جهان آواز

شی دځپو دیرغلونو وطن
دانقلاب دارمانونو وطن
دَتندرونو تراورونو لاندی
دنوي ژوند دتکلونو وطن

دنرمی لسم
۱۳۵٤
کابل

# یه خلکو خلکو!

## (( دوهمه ترانه ))

یه خلکو! خلکو! دوطن خلکو !

یه ددې غرونو، مبارزانو

آیا درسی شوردموجونو

په شپه کې چیغې دماښوګانو

دوطن غیږه پرون بستر وُ
خواوس دوینو، یاغی دریاب شو
پکې دوبیږي هریو ناولی
هغه چې خصم دانقلاب شو

• • •

اوس ترښه تښتي په بیړه بیړه
څوک چې د خوښو ورځو یاران وو
په سرولمبوکې وریته ولاړ دي
څوک چې دخلکو خدمتګاران وو

• • •

بنده چې څمکر په لرمزپدوشوه
بنده چې پای شوې توري چوپیاو
بنده دي چې پراخ شومیدان دمنډو
بنده چې یوشوې تولې ژړاوې

اوس خوږی شوې د وطن اوښکې
پکې نسکورې د زوړ ببړې شوې
د شهزادګیو د سروغړو اندې
دماتې د ونکو غاړو کړې شوې

• • •

وطن راوښې شو خلک جنګیږي
هره ورځ مړې د ننګ نغمه ده
د خاورې هره ذره تبجنه
د نپکو، بدو ترمینځ جګړه ده

• • •

اوس راځروندي شوه مړه آوازونه
د اډیرې وچې فریادونه
د اپه ګولګې د اوربخرکې
پټ غضبونه، پاک کساتونه

داور په سین کې اوس لامبوزن شو
هغه چې هسې نقش زمین و
دلوڅو توره و ، میدان ته ووت
کوم چې په مخکې ، تماشه بین و

• • •

پرېږده چې لوړشي ، آواز دتندر
پرېږده چې ووزي ، دوینو لاړې
پرېږده چې لندشي ، پرېږده پرې شي
داتور لاسونه ، نارواچارې

• • •

دا به وطن ته ، د عزت نوم شي
دا به د خلکو د ژوند مضمون شي
دا به یوه لاره د قربانۍ شي
دا به د ځمکې یو نوی یون شي

دابرا وبنس کړي، ويده ننګونه
دابه بيدار کړي، پټ غير تونه
دابه رواج کړي، نوي نرخونه
دابه رنا کړي، دبزګرخونه

• • •

ورسره ځغله، ترڅوچې ځغلې
داسوځوونکی داورسېلونه
ورسره لوبه، څومره چې لوبې
دادسرکشو، څپوسېلونه

• • •

داسنګرونه داسنګرونه
داورواتونه، دوينو لاړې
داتامپۍ، داهوارپۍ
دسرپه لوبه، نه په قلا ړې

PROPERTY OF ACKU 2689

پښه پخه ږده ، وارخطا نشې
دا دمېرانو لومړنی باب دی
په دې کې نشې ، د نازخوبونه
دا انقلاب دی ، دا انقلاب دی (۱)

۱۳۶۰/۸/۴

تمام شـــد

بخط : محـمّدکریم "حلیمی"

---

(۱) د ( یه خلکو خلکو! ) «دوهمه ترانه» په دوهم چاپ کې زیاتره شوی ده .



سلیمان لایق

دشاعر پیژند گلوی :

سلیمان لایق د ۱۳۰۹هـ . ش کال دمیزان په ۲۰ نیټه دپکتیکا ولایت په ښرنه کی زیږیدلی دی .

لایق دافغانستان داوسنی انقلابی جریان دشعر پیاوړی او مبارز نماینده دی . دده په آثاروکی د انقلابی ارمان او دانسانی مینی تودوخه یوه شویده او دده ترانو ، سرودونو او شعرونو ته یی سوررنګ ورګړی دی .

لایق په باندینی نړۍ کی هم دیومنل شوی لیکوال، شاعراواجتماعی شخصیت په توګه پیژندل شویدی .

دپښتوداوسنی انقلابی نسل شاعران هم ترزیاته حده دده په پله روان دی.

دده داشعارو دغه لاندی کتابونه چاپ شوی دی :

(۱) چونغر (پښتو) .

(۲) کیږدی (پښتو) .

(۳) یادونه او درمندونه (پښتو) .

(٤) بادبان (دری) .

(٥) قصی او افسانی (پښتو) .

دچاپ شمیر : ۵۰۰۰ ټوکه

دچاپ ځای : دولتی مطبعه